لیکونکی: جیون کولی«Juan Cole.».
منبع اود خپریدو نیټه : کمان ډریم «»
ژباړونکې: پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
-----------------------------------------------------------

# له بنده د برګدال (Sgt. Bergdahl) خوشی کیدل نن مونږ ته دافغانستان ، پاکستان اود طالبانو په اړین څه وایی ؟

What Does Stg. Bergdahl's Release Tell us About

Afghanistan , Pakistan And Taliban Today

(دفرانس پرس دمرکزی آژانس ): دبناغلی بارک اوباما دامریکی دمتحده ایالاتو جمهور




ریس دیکشنبی دورځی یوناخاپه اعلامیه د طالبا نو له بند څخه د برګدال خوشی کیدل کوم چی په کال (۲۰۰۹) کی رانیول شوی وه اوهغه د مذاکراتو په نتیجه کی له بنده آزاد شو دهغه ، دهغه کورنی اودامریکی دخلکو دپاره یوخیرانونکی تازه خبر وه .

اما دهغه خوشی کیدل مونږ ته دافغانستان اود پاکستان په اړه څه وايي؟

قطرهغه هیواد دی چی دطالبانو له بند څخه د برګدال په آزادولو کی ستر اوپه بریالی بڼی سره خپل مینځګړیتوب تر سره کړ. اومونږ ته دغه پیښه یعنی د برګدال خوشی کیدل دخلیج دهیوادونو دغبرګون یا یلی څه وایي؟

طالبان یا دافغانستان اسلامی امارت په افغانستان کی دطالبانو د مخکینی دولت ددی پنځو لوړپوړو چارکو له بند څخه دخوشی کیدو هرکلی وکړ او په ډاګه یی کړ چی دغه نوموړی مخکینی لوړ پوړی طالبی چارواکی دقطر ددولت د موظفو غړو د مذاکرتو په نتیجه کی چی دامریکی دمسولو مقاماتو سره ترسره کړآزاد شول .

د العربیا دراپور له مخی ، شیخ تامین (sheikh Tamin) دامریکی متحده ایالاتو دپنځو لوړپوړوطالبی چاروکو دګوانتنامو له زندان څخه دخوشی کیدو اوپه قطرکی دهغودساتلو اود امنیت دنیولوپوره تضمین اوزمه واری ورکړ، د بلی خوا داسی ویل کیږی چی دغه پنځه له بنده آزاد شوی طالبان په قطر کی میشته شی اودخپلو کورنیو سره یو ځای شي ، اما لاتراوسه نه دی معلوم چی دهغو راتلونکی کړنی او فعا لیتونه به څوک نظارت وکړی ، لاکن هغه څه چي معلوم دی هغه دادی چی دهغوی پاسپورتونه مصادره شوی .

۱- قطردبهارعربی له رامینځته کیدو(۲۰۱۱-۲۰۱۰) څخه راوروسته هغه یواځنی هیواد دی کوم چي دپراخ دیپلوماتیکوخنډونو څخه رنځ وړی او داځکه چي دقطر دتلویزیون دستلایت مالی لګښتونه داخوان المسلمین له خوا تمویل کیږی ، هغوی کوم چی دمصر ، سعودی عرب اوله بحرین څخه ایستل کیږی او دوی هم د قطر پر شاهی دولت با ندی زور اچوی چی ددغه پورتنیو هیوادونو سفارتونه په دوحه کی وتړی . نو دغه د طا لبی بندیانو تبادله دامریکایی سرتیری سره له لمړنی او له خوښی څخه یوه ډ که دیپلوماتیک خبردی چي وروسته له څوکلونو څخه دقطر ددولتی مقاماتوپه برخه کیږی ، اودغه پیښه داسی را څرګندوی چی دقطر دګازو دافسانوی ثروت اغیزی لاتراوسه د جنوبی آسیا په هیوادونو افغانستان او پاکستان باندی شته دی.

۲- برګدال (Sgt .Bergdahl) دحقانی دګروپ له خوا کوم چی دهغو مرکز اوهستوګنځی دپاکستان په قبایلي فدرالی منطقه (FATA) کی دی ، رانیول شوی وه . اودهغه له خوشی کیدو څخه اوس دا سوال را مینځته کیږی ا وهغه داچی ا یا ددی بند یا نو د تبا دلی څخه وروسته طالبان به د مذاکری د میز تر شا به کینیني ؟ د حقا نی ګروپ د هغه څلور و سخت دریځوسازمانونه څخه کوم چي امریکایانو اوژورنالستانو هغو ته طالبان وایی یوه ډیره کلک سخت دریځ سازمان دی . دغه څلور سازمانونه یا ډلی ټپلی عبارت دی له :

دملا عمر تر مشری لاندی مخکینی اویا ړومبی طالبان ، حزب اسلامی یا دګلبد ین تر رهبری لاندی اسلامی حزب ( هغه کوم چی د« سی آی ای» تر حمایت لاندی دشوروی اتحاد داشغالګرو قوتونو پرضد په افغانستان کی وجنګید اوله «۲۰۰۲» څخه وروسته له

امریکی څخه مخ واړول اودهغه سره په مخالفت لاس پوری کړ٘ دحقانی سازمان یا ډلی ټپلی کوم چی د سراج الدین «حقانی » ترمشری لاندی فعالیت کوی اوبله ډله یاسازمان دپاکستان طالبان دی کوم چی دهغو زیاتر غړی دمسعود له قوم څخه دي چی د پاکستان په آزاد قبایلی سیمو کی ژوند کوی یعنی هغوی چی هیڅکله مدرسی او ښونځی ته نه دی تللی ، اویا په کوم انستیوت کی لوړ تعلمیات نه دی تر سره کړي ، ( لکه دوه گروپ له نورو دریو گروپونو څخه طالبان نه دی یعنی طلاب نه دی ) اوداسی ویل کیږی چی حقانی دالقاعدی سره ډیر نژدی اړیکی لری .

۳- داسی گونگوسی تر غوږ کیږی چی دپاکستان په شمال کي طالبان په دوو جلا برخو ویشل شوی دی ، یو هغه ډله چی دنواز شریف د مسلم لیگ کوند سره غواړی خپل مذلکراتو ته دوام ورکړی اوبله هغه ډله چی مذاکره له سره نه منی اوغواړی اوغواړی چی دقطر داردو له پیچلی تجربی ( هغسی چی د«۲۰۱۱» د وړی په موسم په سوریه کی دهغو کلا بندی یا محاصره پیل شوی وه ) څخه تجربه تر لاسه کړی .

دبلی خوا څخه دپاکستان لمړی وزیر ښاغلی نواز شریف پخپله هم په میخ وهی اوهم په نعل یا په بل عبارت سره « هم د لرگی اوهم د گازری لوبی ترسره کوی » یعنی له یوی خوا غواړی چی دپاکستانی طالبانو سره روغه جوړه اومذاکری وکړی اودبلی خوا څخه که چیری دهغو سره مذاکره په ټپه ودریږی نو دی ته تما یل را ښکاره کوی چی دپاکستان د طا لبا نو پر پټ خا یونو با ندی هوایی برید وشی اوهغه یعنی نواز شریف د امریکی دمتحده ایالاتو د (F-16) دالوتکو له بمباری څخه چی د پا کستان په آزاد قبایلی سیمو کی پر پاکستا نی طالبانو باندی ترسره کوی خپل سر نه خوږوی ، دلته یوه سوال را پیدا کیږی اوهغه داچي : دغه دیرغمل اود گروگان گیری بریالی اوموفقانه مذاکری دحقانی دځنو غړو دپاره د «سی آی ای» سره په مذاکره کی له کابله دکال «۲۰۱۷» دجنوری میاشت دامریکی دمتحده ایالاتو دسرتیرو د ایستلو نښه اونښانی به نه وی ؟ یا په بل عبارت د حقا نی دگروپ اکثرغړی داسی فکرکوی چی امریکایان په «۲۰۱۷» کی له افغانستان څخه وځی ! اوداځکه چي دحقا نی د گروپ غړو له ډیر پخوا مودی څخه په وار وار ویلی چي هغوی به ترهغه وخته پوری خپل ټوپک لیری نه اچوی ترڅو چی له افغانستان څخه ټول اشغالگری ډلی نه یی وتلی اوبیا تر همغه وخته پوری دی ته نه حاضریږی چی دکابل درژیم سره دمذاکری دمیز تر شا کینینی . ؟

۴- په ورته بڼی دافغانستان دطالبانو په دریځ کی هم بدلون رامینځته شوی اوهغه داچی ځنی د هغوی زیاربا سی چي په افغانستا ن کی د امریکایانودتلوڅخه وروسته سیاست وکړی اوځنی نور یی بیا غواړی چي خپل گوریلایی یرغل دافغانستان دحکومت په وړاندی جاری وسا تی. په هرصورت داډول خبری ا تری یا مذاکری کوم چی مخکی ددی ډول مذاکری د پیل د پاره ډ یر هلی ځلی تر سره کیدل یوه ښه خبره دی او دا به لمړی ځل وی چی که مذاکری ښه پایلی ولری نو د مذاکره کونکو پر سر به د بریالیتوب

تاج کینودل شي اما دبلی خوا ښخه داسی نښی اونښانی تر سترګو کیږی  چی د طا لبا نو ځنی غړی غواړی چی خپل جګړی اویرغل ته دوام  ورکړی  اوځنی  نوری بیا  غواړی چی که چیری  دهغوی تعهدات  د سیاسی اسلام  سره ټکر ونخوری   نو سولی  ته  غاړه ایږدی ، اوبلی خوا ښخه دامریکی دکنګرس جمهوریخواهان  داوباما ددغه بریالیتوب  په وړاندی خپل مخالفت  په ډاګه کوی  اودهغه سره دخپل خصومت  تبی ګرم ساتی .
زه داسی فکر کوم  چی ددی احتمال  وړل  کیږی   چی دغه  مذاکرات   د افغانستان دراتلونکی برخه لیک پوری تړلی  اواړین موضوع بلل کیږی .

دمقالی دلیکونکی په اړه لنډ معلومات : جیون کول  دماشیګن په پوهنتون کی  د مینځنی ختیځ اودجنوبی آسیا  دهیوادونو دتاریخ  ښونکی او مدرس  اوهم د یولړ کتا بونو مولف کوم  چی  د  هغه  وروستی  کتاب  د  (Engaging  the Muslim world)  د (palgran Macmillan)  مطبعی  ښخه  نوی  له چاپه  راووتل  ،  همدارنګه  هغه   د « پرمصر  اوپه مینځنی ختیځ باندی دناپیلیون یرغل » د هغه کتاب  نوم  دی  چی  په دی تازه وختونو کی له چاپه راوتلی اود لوستونکو په چوبړ کی  ولوید لی ، هغه   همدارنګه اکثراً  په  تلویزیونی ناستو  اورادیوی  خبرو  اترو ته  هم  حاضریږی  هغه  د  مینځنی ختیځ   په اړه  تل  یولړ  سوالونو  ته ځواب  وایی  اوهغه  سربیره په تولو  مخکی ذکر شوی مطبوعانی  فعا لیتونو سره سره تر اوسه د«۱۴» کتابونو مولف دی .
په درناوی